مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد



پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۱/۰۲/۲۴

# د منتقد شاعر، عبدالرحیم روغاني مړینه







د پښتو ژبې د انتقادي شاعرۍ مخکښ استازی عبدالرحیم روغاني چې د «قطعي بابا» په نامه هم مشهور و او په پښتو معاصره شاعرۍ کې د یو منحصر په فرد ځانګړي سبک خاوند و، وفات شو.

انا لله وانا الیه راجعون



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ښاغلي روغاني بشپړه بیوګرافي مې کله له نظره نه ده تېره شوې، کله چې کابل ته راغلی و، لږ و ډېر په میډیا کې د ده په باب معلومات خپاره شول، خو له شعر سره یې له پخوا نه اشنا وم او چېرې به مې یې چې بېلګې له نظره تېرېدلې، نو سمدلاسه به مې خوندي کولې، په تېره هغه اشعار یې چې انتقادي بڼه یې درلوده او د ټولنې مفتخوره قشر یې وربانديې ځابه.

د ده د مړینې د خبر په خپرېدو سره، میډیا کې د ده د ژوند د حالاتو په باب یو څه معلومات خپاره شول. زه به د دوو ویبپاڼو د راپوروڼو لنډې برخې دلته راواخلم:

## امریکا غږ:

ښاغلي بارکوال میاخیل په امریکا غږ پښتو ویبپاڼه کې د ده د مړینې په پار د «**د پښتو ژبې مشهور شاعر عبدالرحیم روغاني له نړۍ سترګې پټې کړې**» ترسرلیک لاندې یوه لنډ رپوټ خپور کړی د چې ځینې برخې یې دلته را اخلم:

«د پښتو ژبې نومیالي شاعر او لیکوال عبدالرحیم روغاني له اوږدې ناروغۍ وروسته د 71 کلنۍ په عمر له نړۍ سترګې پټې کړې.

روغاني صاحب ابتدایي تعلیم پخپله سیمه د سوات په مټه تحصیل کې کړی وو او وروسته یې په پښتو ژبه کې د ماسټرۍ ډګري اخیستي وه، چې بیا یې د استاد په توګه دنده تر سره کړې وه.

عبدالرحیم روغاني د پښتو په اوسنیو شاعرانو کې یو له هغو شاعرانو وو چې زیاتې قطعې یې لیکلې دي ځکه خو هغه ته په ادبي نړۍ کې «بابای قطعه» هم ویل کېدل. لیکوال امان الله نصرت د ښاغلي روغاني په اړه پخپله یوه مقاله کې لیکي:

"روغاني صیب له خیال او مضمون دواړو سره له انصاف نه کار اخیستی او هر وخت یې د نوښت، ابتکار او د یوه نوی خیال او نوي مضمون د راوړلو شعوري هڅه کړې ده."

د روغاني په شاعرۍ کې ولسي رنګ زیات دی ځکه خو یې ډېر شعرونه مشهورو سندرغاړو هارون باچا، سردار علي ټکر او نورو له موسیقۍ سره ویلي دي. یوه غزل یې ډېره مشهوره شوې چې مقطع یې دا ده:

بـیا چې شي تـازه زاړه یـادونه روغاني ته
خدای دې سوات ته راولهٔ د سوات په بهانه

د عبدالرحیم روغاني په شاعرۍ کې له وطن او خاورې سره د مینې تر څنګ پر ملایانو او خانانو تنقید او طنز هم موندل کېږي او شاعري یې ډېره عام فهمه وه ځکه خو په عامو خلکو کې زیات مشهور وو.

د عبدالرحیم روغاني د شعرونو او نثرونو کتابونه چاپ شوي دي، چې په هغوی کې یو «نوې نغمه» د شعرونو ټولګه، «ځورېدلي احساسات» د شعرونو ټولګه، «سندریز احساس» د شعرونو ټولګه، «خود غرض» نثر، «د رنا څاڅکي» شعري ټولګه، «سندري او خبرې» منظوم او منثور او یو د نثر کتاب «کوربانه خیالونه» شامل دي.

د ښاغلي روغاني «خودغرض» نومي کتاب په انګریزي ژبه هم د «The Sacred Spirit of Selfishness» په نوم ژباړل شوی او په 2019م کال کې په لندن کې چاپ شوی دی.

ښاغلی روغاني په خته روغانی محمودخېل وو او د 1950م کال د جنورۍ په 15مه د پښتونخوا د سوات ضلعې په مټه کلي کې زېږېدلی وو او نن به په خپله پلارنۍ سیمه کې خاورو ته سپارل کېږي»

## تاند:

تاند ویبپاڼه لکه تل د پښتو ژبې د ژوندیو او وفات شویو فرهنګیانو د ژوند حالات د اړتیا په وخت کې خپاره کړي دي، نن سهار یې د روغاني د مړینې په پار دا رپوټ خپور کړی دی:

«کوزه پښتونخوا کې د پښتو ژبې وتلی شاعر عبدالرحیم روغاني له اوږدې ناروغۍ وروسته د ۷۱ کالو په عمر ومړ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

روغاني په پښتو ژبه کې ماسټري کړې وه او د شاعرۍ په برخه کې د زیاتو قطعو د لیکلو له کبله په (بابای قطعه) مشهور و.

عبدالرحیم روغاني له نن ۷۱ کاله وړاندې د پښتونخوا د سوات سیمې په مټه کې زېږېدلی و. نوموړي تر ډېره برېده ولسی شاعري کړې او په شعر کې یې د خپل ولس ناخوالې بیانولې.

د عبدالرحیم روغاني د شعرونو او نثرونو کتابونه چاپ شوي دي، چې په هغوی کې یو «نوې نغمه» د شعرونو ټولګه، «ځورېدلي احساسات» د شعرونو ټولګه، «سندریز احساس» د شعرونو ټولګه، «خودغرض» نثر، «د رڼا ځاځکي» شعري ټولګه، «سندرې او خبرې» منظوم او منثور او یو د نثر کتاب «کوربانه خیالونه» شامل دي.

د ښاغلي روغاني «خودغرض» نومی کتاب په انګرېزي ژبه هم د «The Sacred Spirit of Selfishness» په نوم ژباړل شوی او په 2019م کال کې په لندن کې چاپ شوی دی.

چې سل جنازې تېرې شي هیڅ نه وي روغانیه
په خوا کې مې چې تېره شي ډولۍ لیونی کېږم

روغاني بابا په خپلو شعرونو کې داسې کیفیات غړول، چې لوستونکی به یې مجبوراوه، ترڅو د مرحوم شعرونه ولولي.

د نوموړي له شعرونو داسې ښکاري، چې د وخت جابر پرې ښه ډېر ظلمونه کړي، دي په محکومه پښتونخوا کې و، خو تل یې په زړه کې د لوی افغانستان هیلې وې او کله به چې پر پښتنو کېدونکي ظلم وژړاوه؛ نو دا ناره به یې کوله چې:

حمزه خو وایي د جنت ژبه ده
مونږ په دوزخ کې له پښتو سره یو

روغاني بابا، چې کله ناخواني سرطاني ناروغۍ ډېر وارخطا کړ او بیا به یې خپلې بې وسی ته وکتل؛ نو ویل به یې:

خدایـــه شــاهــد یې، زه پیسه نـه لرم
د ډکـتــرانــو منت بــار مـــې نه کړې

شـرنـګ د پـیسي منـې، کیسې نـــه منې
مرګ راله راکړې؛ خو بیمار مې نه کړې

روغاني اوږده ناروغي ولیده او له ډېرې مودې یې ورسره صحت ملګرتیا ونه کړه، چې بلاخره یې نن خپل روح د کائناتو خالق ته وسپاره.

که زه مړ شم، ما نه هیڅ نه پاتې کیږي
زه د ډېــرې کمزورۍ نـه زورور یم

روح یې ښاد او پر ګور یې نور.»

که چا د روغاني صاحب شاعرۍ نیمایي برخه هم له نظره تېره کړې وي، په دې پوهېږي چې د روغاني شعر په اوسنۍ پښتو شاعرۍ داسې و لکه په کتغ کې مالګه. «قطعه» چې په شاعرۍ کې یو خاص فورم دی، روغاني د خپلو قطعو په اثر د بابا لقب ګټلی دی. د ده انتقادي ژبه هر چا ته ور رسېده، خو د ملایانو وضعیت لکه خنګه دی، هغسې یې انځور کړی دی، په جرأت او پرته له ډار نه. دا یې یوه تر ټولو غوره بېلګه ده:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

## افسوس

يــو مـلا مو کسب د توپک، تـوري، نـيزې کوي
بــل مــلا مـو کار د دم، تـعويذ او اجـازې کوي

بـل مـلا مـو مـلا د سيـاسـت کـار تـه تـرلي ده
مونږ يې خوار و زار کړو او ملا صيب مزې کوي

دا فرقي فرقي رنـګـين اسلام راتـه اور شوی دی
يــو مــلا مـو وژنــي، بــل ملا مو جنازې کوي

د خلکو او ټولنې وروسته پاتېوالی، جهل او ناپوهۍ ته يې هم ډېر ځلې پام شوی دی او د انتقاد اور يې وررسولی دی:

نــورو تـــه پـه ډکه خـوله بـيدين وايي
خـپل ځـان تـه بـه زين الـعـابـدين وايي

مـړه کړي په لسګونو لوي واړه د شپې
لـمونـځ کي د سهار سورة ياسين وايي

څومره چي يې غوښې روغانيه خوري
دومره ورتـه قـام خـپـل قـائـديـن وايي

د روغاني صاحب شعرونو ته د موسيقي قالبونه هم جوړ شوي دي او هنرمندانو د ده شعرونه څنګه چي ښايي په هماغه درد سره زمزمه کړي دي چي د هارون باچا، بريالی صمدي، سردارعلي ټکر او ځينو نورو نومونه د يادولو وړ دي. دلته به د درې سندر قاړو د هغو سندور لينکونه کېږدم چي د روغاني صاحب شعرونه يې زمزمه کړي دي:

د ټکر د سندرې لينک:

https://www.youtube.com/watch?v=nQOGAe0GWkk

د بريالی صمدي د سندرې ليک:

https://www.youtube.com/watch?v=TC3ijFuFUrI

د هارون باچا د سندرې لينک:

https://www.facebook.com/watch/?v=3636896909694584

د عبدالرحيم روغاني د مړيني خبر له خپرېدو سره سم، په ميديا کي د ده د شاعری، ليکوالی او طرز فکر پلويانو او خواخوږ د خواشينی او تسليت پيامونه خپاره کړل چي دلته يې څو بېلګي را اخلم:«

ډاکتر لطيف ياد:

انا لله وانا اليه راجعون.

په ډيرې خواشينی سره مو خبر تر لاسه کړ چي ديښتو ژبې شاعر او نثرليکونکی ښاغلی عبدالرحيم روغاني بابا دهغې نا روغی له کبله چې په چې ورپيښه شوې وه له دې فاني نړی نه دتل لپاره سترګې پټي کړې. ښاغلی اروابناد روغاني صيب له نن نه څه دپاسه اويا کلونه دمخه ديښتونخوا دسوات په متګه کې دې نړی ته سترګي پر انيستلي وې ، ده په پښتو ادبياتوکې خپله ( ايم .ای ) کړې وه اوپه ۱۹۷۲ کال کې دښوونکي دنده پيل کړه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

اروابناد ډیرې شعري او نثري ټولګي ليکلي دي چې شمير يې اتو ته رسيږي او چاپ شوي هم دي . الله تعالى دي دي وبخښي او خدای دي دده روح خوشاله لري.

عبدالغفور لېوال:

## چالندي دي راخيستي، چا اوړدي راخيستي
## نـــاجوړه يــمــه لونو مــي تسبي راخيستي

د سوات د سمسورو هسکو شاعر عبدالرحيم روغاني ومړ، د ښکلا خدای به يې ښکلی ونازوي، ان شاءالله .
د دغه شاعر پورته بيت مې د ښاغلي بشير باران پر مخپاڼه ولوست او ترغوړه مې شوه، چې دا يې روستنی شعر دی.

له اروابناد سره مې خپل يو مجلس راياد شو، چې د شعر پر سرچينه مې يومهال په خوارږه پېښور کې ورسره کړی و.

ماته دغه بيت دومره طبيعي، عاطفي، له خياله ډک او د لاشعوري زېرمو له تله راوتلی ښکاري، چې که روغاني يوازې همدا بيت هم ليکلی وای. د پښتنو په سرلارو شاعرانو کې به يې ځای کړی وای .
ژوند، عاطفه، مينه، پاک معنوي ايمان، پټ درد او تر هرڅه مهم انسانمحوره تفکر و پيغام په دې بيت کې سره يوځای راټول شوي دي.

د افغانستان د علومو اکاډمي:

د خواشينی پيغام:

خورا خواشيني يو چې خبر شو د پښتونخوا د سوات سيمي د پښتو ژبې تکړه شاعر او بابای قطعه عبدالرحيم روغاني د وروپېښی ناروغی له امله وفات شو.
انا لله و انا اليه راجعون.
الحکم لله

د اروابناد روغاني د مړيني له امله د افغانستان د علومو اکاډمي له اړخه د خواخوږی او تسليت مراتب د اروابناد کورنی، دوستانو او خپلوانو ته وړاندې کوو، خدای پاک دې روغاني صاحب وبخښي، جنتونه دې ځای شي. موږ په دې ستر غم کې د دوی له کورنی او د پښتونخوا او په ځانګړي ډول د سوات له فرهنګيانو او ليکوالو سره خپل ځان شريک بولو. کورنی او دوستانو ته يې له ستر څښتن تعالی جل جلاله جميل صبر غواړو، خدای مو دې له نورو غمونو، دردونو او مصيبتونو وساتي.

د افغانستان د علومو اکاډمی رهبري پلاوی.»

روغاني صاحب په يوه مصاحبه کې د خپل ژوند ځيني اړخونه روښانه کړي دي او دا يې ويلي دي چې ده څومره اثار ليکلي او چاپ کړي دي او کومو ځايونو ته يې سفرونه کړي دي. ده د خپلو چاپ شوو اثارو شمېر اته (۸) وښودل چې نومونه يې دا دي:

۱ ــ نوې نغمه (د شعرونو ټولګه)،

۲ ــ زوربېدلی سفر (د شعرونو ټولګه)،

۳ ــ کوربانه خيالونه (منثور)،

۴ ــ خود غرض (منثور)،

۵ ــ د رڼا څاڅکي (شعري ټولګه)،

۶ ــ سندريز احساس (د شعرونو ټولګه)،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

۷ ـ سندري او خبري (نثر ـ نظم)،

۸ ـ په انګليسي ژبه باندې د «خود غرض» (The Sacred Spirit of Selfishness) اثر ژباړه.

روغاني صاحب په ياده مصاحبه کې وويل چې دغو هېوادونو ته يې سفرونه کړي دي:
سعودي، دوبی، قطر او افغانستان.
روغاني صاحب د افغانستان د سفر په باب داسې وويل:
«په افغانستان کې هېڅ د پرديتوب احساس نه کوم، د کابل ملګرو زما شاعري داسې ياده کړې وه او ببرته يې راته ويله لکه ډېره موده چې له ما سره او زما له شعرونو سره پاتې شوي وي.
په افغانستان يو «رستوران» زما په نامه (روغاني) جوړ شوی دی او پرانستلو ته يې زه ورغوښتی وم.
زما شعرونه سندرغاړو ويلي دي او ښه په اخلاص او د زړه له تل نه يې ويلي دي.»
په ميډيا کې د روغاني صاحب په باب د راغلو خاطراتو په لړ کې داسې حقايق راغلي چې روغاني صاحب کابل ته هم راغلی و، همايون هېواد داسې ليکلي دي:
«روغانی صيب کابل ته د يوه ناروغ ملګري ليدو ته راغلی و خو د شمشاد ملګرو پيدا کړی و او پروګرام يې ورته جوړ کړی و. تر پروګرام پيلېدو مخکې يې ډېرې کيسې وکړې، د يوه طنزيه شعر کيسه يې وکړه چې خپل ناروغ ملګري ته يې في البديهه ليکلی و او ملګری يې دومره خندولی و چې وضيعت يې بيخي بدل شوی و. په پروګرام کې مو د ارواښاد روغاني شعرونه واورېدل او وويل او په شعر مو خبرې وکړې.
روغاني صيب ويل چې اوس عجله لرم، بيا راځم، ډېر مجلسونه به وکړو خو روغانی صيب کابل ته رانغی او په ابدي سفر لاړ، روح يې ښاد او عزيزانو ته يې د زړه صبر غواړم...»
په پای کې به د روغاني صاحب د کلام څو داسې بېلګي را واخلم چې د خلکو او وطن درد په کې ځلېږي، طنز ډوله خندا ورنه اورېدل کېږي او پر خلکو د روانو حاکمو حالاتو ډېره ښه ترجماني کوي:

چې هر درد د هر مظلوم د زړه محسوس کړي
خداي دې تـا د روغـاني غـونـدې حساس کړي

***

که زه مړ شم مانه هېڅ نه پاتې کيږي
زه د ډېـرې کـمـزورې نـه زورور يم

***

پـرون وې روغ زړګـيـه نــن راتـه پاګل ښکارې
زما سينه کې چې زلمی شوې اوس د بل ښکارې

زمـــا پـــه مـيـنـه ستا نـفرت برې موندلی نشي
که راتـه تول ازغی ازغی شي ما ته ګل ښکارې

***

مــوت لـه يې پيدا کړو د حيات پـه بهانه
اوس بـــه حيـات ګـورو د ممـات پـــه بهانه

وخت سره زاهد رنـګـونـه اړوي بدلـيـږي
ځـي نـن مـېـکـدې لـه د جومات پـه بـهـانه

يې وي ديدن ته، مرشد هسې بهانه شي
اوکـــړي مـــلاقـــات د مـــلاقـــات پـه بـهـانه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دینداري لکه دانه په دام کي کېږدي
وخوري هندوستان د سومنات په بهانه

بیا چي شي تازه زاړه یادونه روغاني ته
خدای دې سوات ته راواله د سوات په بهانه

***

معاش له هرڅوك اوزار ساتي
«پاڼو» چي ځان ساتي، نو مار ساتي

بادشاه د خپلي بادشاهی لپاره
وسله، نوکر، عسکر تیار ساتي

نواب له خپل غم نه بېغمه ندی
غله او رهزن ساتي، لوټمار ساتي

خدايي مزاج لري دا بعضي غټان
چي څوك يې يار وي هغه خوار ساتي

مغرور سړي سره ياري ښه نده
څوك ځان ته ځله دويم پلار ساتي

راشه زموږ د قام مقام وګوره!
هرڅوك د بل په كار كي كار ساتي

د ولس دوسته شاه زلمو په تمه
روغانی ناست دی لويه لار ساتي

***

ژوند مفلس دی مر ک يې وړي په نیمه بیه
د بې قدرو له بازاره ستوري وځي

***

د روغاني خپه کول څه دومره ګران خو نه دي
ته تړي خپه شه روغانی غریب خپه، خپه دی

***

ساقي چي لاړو نو پیالی لاړې
هغه سرور هغه تالی لاړې

اوس به د نورو تماشي ته کېنو
زموږه ورځي د سیالی لاړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پښتون قوم په ادرس د عبدالرحيم روغاني وروستی نقد او وروستی پيام دا دی:





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ